# د والدېنو لپاره د ګوګل کلاس روم (Google Classroom) لارښود

## په لاندې ورکړل شوي لارښوونو تعقیبولو سره تاسې کولای شئ چې د خپل ماشو/ماشومې سره مرسته وکړئ چې د خپل Google Classroom ډېش بورډ ته لاګ ان شي:

د Google Classroom استعمالولو لپاره تل د Google Chrome براؤزر استعمالوئ.

په URL پټه کې په **classroom.google.com** ورکولو سره کلاس روم ته لاړ شئ یا د کلاس روم په آیکون کلیک کړئ، که چیرې ستاسې زده کوونکی/زده کوونکي د ډسترکټ ChromeBook لري.

تاسې به د خپل ماشوم/ماشومې د **NHPS چمتو شوي اي مېل ادرس** ته اړتیا لرئ (توسعه: 312749@nhps.net).
دا د خپل ډسترکټ د زده کوونکي آیي ډي د "@nhps.net" له مخه د شمیرې په توګه استعمالوي، چې په لاګ ان سکرین ښودل شوي ده:

**1**




**2**




په خالي ځای کې د خپل ماشوم/ماشومې د @nhps.net اي مېل ادرس ورکړئ. (توسعه: **312749@nhps.net**).
بیا په **Next** کلیک کړئ.

که تاسې کلاس روم ته چیرې مخکې نه یئ لاګ ان شوي، ستاسې د ماشوم/ماشومې پاسورډ به "password1!" وي. که تاسې نه شئ لاګ ان کیدلی، لطفاً HELPDESK@new-haven.k12.ct.us ته اي مېل وکړئ او د خپل پاسورډ د بیا برابرولو غوښتنه وکړئ.

کله چې تاسي پاسورډ داخل کړئ، ستاسي د ماشوم/ماشومې د کلاس روم ډېش بورډ به خلاص شي، چې هغه ټول کلاسونه به په کې ښکاري کوم ته چې مستقیماً ستاسي د ماشوم/ماشومې ښوونکي هغوی رابللي وي. **Join** کلیک کړئ.




**په کلاس کوډ سره په کلاس کې ګډون کول**

که ستاسي زده کوونکی/زده کوونکې د خپل ښوونکي د کلاس روم پاڼي ته نه یي رابلل شوی/شوې، خو پر ځای یې ورته **کلاس کوډ** ورکړل شوی وي (ex: jhx5el)، نو پورته ښي ګوټ ته د **+** سمبول کلیک کړئ، بیا **Join Class** کلیک کړئ. یوه وندو به خلاصه شي چې له تاسي څخه به وغواړي چې خپل د کلاس کوډ ورکړئ. د کلاس کوډ ورکړئ، بیا په **Join** کلیک کړئ.




>>>> د پاڼي پرانیستلو لپاره، د کلاس په سرلیک کلیک کړئ.




کلاس به **Stream** کتنه د ورکړل شوي وروستي اعلامیو او اسایمنټونو سره پرانزي. د پرانیستلو لپاره په اسایمنټ کلیک کړئ، یا د کلاس ورک پاڼي ته لاړ شئ چې ټول اسایمنټس وګورئ.




د کلاس ورک ټیب به مخکیني او اوسني ټول اسایمنټس څرګند کړي. د اسایمنټس د بشپړولو تاکلې نیټه د لاربښوونو لپاسه د هغه نورو سرچینو سره ښکاري چې ښوونکي شامل کړي وي (ویب سایټونه، ویډیوګاني او داسي نور). ښي اړخ ته په کلیک کولو سره زده کوونکي هغه اسناد ته لاس رسی لرلی شي، چې بشپړولو ته اړتیا لري.




که چیرې د کار کولو یو سند په کې شامل نه وي، زده کوونکي کولای شي چې په **Add or create** کلیک کړي څو خپل Drive ته لاس رسی ولري، نوی سند پیل کړي، یا هغه سند ضمیمه کړي چې له مخه یې بشپړ کړی وي.

زده کوونکي به د اسایمنټ بشپړولو او خپل کار ضمیمه کولو وروسته د خپل کار د سپارلو لپاره په **Turn in** کلیک کړي. که هغوی د اسایمنټ په هکله له خپل ښوونکي څخه پوښتنې لري، د **Private comments** لاندې په ورکړل شوي خالي ځای کې خپلې پوښتنې ټایپ کولی شي.